مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۱۱/۰۷

# غزل

## ولې به نه ژاړم

ژوند کې مې ښکلي ارمانونه لرل
د ودانـــۍ مـې هسک فکرونه لرل

ولې به نه ژاړم چې وران ويجاړ شول
مـا د ګـلانـو ډک بـاغــــونه لرل

درتـه کـومـه د مـــات زړه خبرې
مـونـږ د يـووالـي پــلانـونه لرل

چې پيژندو به مو حاکم او محکوم
داسې سپيڅلي مـو وخـتـونه لرل

شیخ په فتنو هسې زلمي خـاورې کړل

چې په سجدو یـې تـل، سرونه لړل

د "پسرلـي" د زخـمـي زړه لـپـاره

مـوږ امبـارونـه، درملـونـــه لړل

**** **** ****

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!